مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

۲۰۲۴/۰۵/۲۵

د پوهنتون خاطري

(۳۰)

زمور پوهنتون چې له جلوزو کیمپ څخه خپل وطن ته را انتقالیده؛ نو داسې وخت و چې له تنظیمونو سره د (انصارو د حکومت) دلچسپي ختمه شوې وه. ځکه چې بې وسه افغانستان کې نور روغ ځای نه و پاتې. سپکې او درنې وسلې، پوځي وسایط، تاریخي اثار او ټوله ملي شتمني ور انتقال شوې وه او نور تري څه نه بودیدل .زمور د پوهنتون د یوه استاد ښاغلي محمدا جان حقپال په خبره:

پرېوته د زړه مرغۍ په دام کې د صیاد
ځکه نه نغمې شته، نه د ژوند ښې تراني

افغانستان ښکار شوی و، نور نه چاته ناز ورکولو ته اړتیا وه او نه شاباس ته .

د انتقال په مهال د پوهنتون په میزونو او څوکیو بار لارې دیر وخت له تورخم اخوا بې برخلیکه درول شوي وي . چې کله یې اجازه ورکړه او لارې را ورسیدلې؛ نو د یوه ستر میز لاندینۍ برخه کې د شاتو مچیو غټه ځاله کړې وه. مور چې د لیلیې یو نواخته خوړو ستړي کړي وو؛ د دې ځالې په لیدلو مو شاتو ته دیره تلوسه شوه؛ خو مچیو ته نږدې کیدو هم د پیل زړه غوښته چې زمور په کوچنیو سینو کې یې درک نه و. اخر یو زړور محصل ځان په څادر کې تاو کړ. ورو – ورو ځالې ته نږدې شو. مچیو به وزرونه ببر کړل، څه به یې په پیچلي مخ ور ونښتې او څه به بیرته په ځاله کیناستې. د محصل په یوه لاس کې کاسه وه او په بل کې نرۍ لښته. لښته یې په څه خواړۍ ځاله کې ننویسته، له ځالې لاندې یې کاسه کیښوده او بیا د شاتو نرۍ ویاله روانه شوه. کاسه څه ناڅه ډکه شوه او محصل له دې ستر غنیمت سره په فاتحانه انداز راستون شو.

اوله کې خو مو لږ نوبت مراعت کاوه؛ خو وروسته خبره خرابه شوه او په کاسه چور ګډ شو. کاسه په لاس محصل منډه کړه او مور ورپسې شوو. په اتاق ور ننوت. لږ شات تري اتاق کې چپه شول او نور هر چا د خپل توان مطابق وخوړل .

یوه محصل، چې ژیړه رنګه یې وه، ونشو کولای چې د غنیمت په شاتو خوله خوږه کړي. البته له ټولو ده ته دیر ضرور ول؛ ځکه بیمار و او کوم حکیم ورته ویلي ول چې سوچه (خالص) شات خوره .

لږ وروسته چې محصلین خواره شول او هر یو په خپله مخه لاړه؛ نو زه بیرته هماغه اتاق ته روان شوم چې د شاتو کاسه پکې چپه شوې وه. د خونې ور لږ پرانیستی و، مخکې له دې چې ور پرانیزم او د ننه شم؛ له عجیبې نندارې سره مخ شوم:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له مور سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هماغه بيمار محصل داسي غځيدلی و، لکه جيم کي چي د سينه کشي حرکتونه کوي، ژبه يي را ويستلي وه او ورو-ورو يي د اتاق پر سيمنټ شوي سطحه تويه شوي شات څټل. يوه شيبه ورته ولاړ وم او بيا مي يو ناڅاپه ور پرانيست. هلک لاپسي تک ژيړ شو ، ژر راپورته شو او بيا يي راته ويل: حکيم راته ويلي و چي خالص شات خوره، تاسي ظالمانو خو رانکړل، مجبوره شوم چي ...
بيا يي په عذرانه انداز وويل: گوره، هيڅوک در ځني خبر نشي، که هرڅوک خبر شول، نو تا به حال ويلي وي؛ ځکه دلته بل هيڅوک نشته. بيا به در سره په ټول عمر کي و نه غږيږم. ما ويل بي غمه شه، دا خبره به همدلته ښخه شي .
يو ماسپښين چي چای ته راغونډ شوو؛ نو د شاتو په فوايدو خوږ بحث روان و. له ما پوښتنه وشوه، ما ويل زه معلومات نلرم. بيا مي هماغه بيمار محصل ته گوته ونيوله او ومي ويل: له ده يي پوښتنه وکړئ، ماته خو يي رنگ لږ تازه ښکاري.
له دي سره هلک نارامه شو او په سترگو سترگو کي يي پوه کړم چي د خدای خاطر وکړه او نوره کيسه مکوه.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ